مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲٦۲** (از ٦ الی ۱۳ اسد ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................................................................ ۲

### سوله او د افغان جګړې نوی پیلېدونکی اړخ

د امریکا او طالبانو مخامخ خبرې ................................................................. ۴

د سيمه‌ييزې اردو طرحه........................................................................... ۵

د افغان جګړې او سولې راتلوونکی .............................................................. ۵

### ائتلاف‌های سیاسی و بنیادهای تشکیلاتی آن در افغانستان

اپوزسیون و ائتلاف‌های ضد حکومتی ............................................................. ۹

ائتلاف‌های سیاسی در افغانستان ................................................................ ۹

"ائتلاف بزرگ ملی افغانستان" ................................................................... ۱۰

## مقدمه

په وروستیو کلونو کې له طالبانو سره د سولې په پار تر بل هر وخت، ډېرې هڅې وشوې، خو د پام وړ پایلې یې نه درلودې. طالبانو د سولې په برخه کې، تل د امریکا د حضور په اړه له امریکا سره د مخامخ خبرو پر ترسره کېدو ټینګار درلود؛ خو په رسنیو کې د وروستیو راپورونو پر بنسټ داسې ښکاري چې د طالبانو دغه غوښتنه هم منل شوې ده، ځکه تېره اوونۍ داسې راپورونه خپاره شول چې امریکایي او طالب چارواکو په قطر کې مخامخ خبرې کړې دي او هڅه یې داده چې د افغانستان کشالې ته د خبرو له لارې یوه حل لاره پیدا کړي.

له دې سره د "امت" په نوم یوې پاکستانۍ ورځپاڼې د طالب چارواکو له قوله لیکلي چې طالبانو له امریکا څخه د ۱۳ ولایتونو د ورسپارلو غوښتنه کړې ده. په بل اړخ کې ځینې راپورونه داسې هم وایي چې امریکا، افغان حکومت ته امر کړی، ترڅو د هېواد له لرې پرتو او کم مېشتو سیمو څخه افغان امنیتي سرتېري وباسي؛ افغان حکومت که څه هم دا ردوي چې ګواکې دوی ته د امریکا له لوري امر شوی؛ خو دا مني چې د یوې نوې طرحې له مخې د ملي اردو ځواکونه له کم مېشتو سیمو ښارونو ته راوستل کېږي او په دغو سیمو کې به د محلي اردو په نوم، د سیمې له خلکو څخه وسلهوال کسان ځای پر ځای شي.

په روانو حالاتو کې له یوې خوا له طالبانو سره د سولې په هدف د امریکا خبرې، که څه هم خورا هیله بښوونکې دي؛ خو په بل اړخ کې په لوی لاس د افغان امنیتي ځواکونو تر کنټرول لاندې سیمو پرېښودل او یو ځل بیا د ځایي ملېشو رامنځته کول، د اندېښنې وړ دي. همدې موضوع ته مو د ستراتېژیکو او سیمهییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل لومړۍ برخه ځانګړې کړې ده.

د اوونۍ تحلیل دویمه برخه مو په افغانستان کې د یو شمېر سیاسي احزابو او مطرح څېرو له لوري «د افغانستان لوی ملي ایتلاف» په نوم نوي رامنځته شوي سیاسي ایتلاف ته ځانګړې کړې ده. دغه ایتلاف هېواد ته د ولسمشر د لومړي مرستیال جنرال دوستم له ګرځېدو څو ورځې وروسته د نوموړي په ګډون اعلان شو. د نوي ایتلاف د اعلانېدو په مراسمو کې د نوموړي ایتلاف غړو د افغان حکومت پر کړنو توندې نیوکې وکړې او ګواښ یې وکړ که چېرې د دوی غوښتنو ته توجه ونه شي، مدني حرکتونه به پیل کړي.

# سوله او د افغان جګړې نوی پیلپېدونکی اړخ



د امریکا او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پیل له ګنګوسو را وروسته، تېره اوونۍ د امریکا وال سټرېټ ژورنال د یوه راپور په خپرولو سره وویل چې په دوحه کې طالب او امریکایي چارواکو د سولې په اړه مخامخ خبرې کړې دي. په دې هکله که څه هم تر دې دمه طالبانو کومه رسمي اعلامیه نه ده خپره کړې؛ خو د یو شمېر رسنیو د راپورونو پر بنسټ، دغه خبرې طالبانو ته د نږدې سرچینو له لورې تأیید شوې دي.

په همدې حال کې د رویټرز خبري آژانس د راپور له مخې، طالب چارواکو ویلي چې دغه خبرې د دې ډلې د مشرتابه شورا په هوکړه ترسره شوې دي او دواړو لورو په هغو وړاندیزونو بحث کړی چې له مخې یې طالبانو ته اجازه ورکوي، څو د افغانستان په دوو ولایتونو کې پرته له دې چې پرې حملې وشي، په آزادانه توګه، تګ راتګ وکړي.

دغه پلان که څه هم له وړاندې افغان ولسمشر اشرف غني رد کړی دی؛ خو تازه د هغې طرحې په اړه هم راپورونه خپاره شوي چې افغان دولت او امریکا غواړي، د هېواد له کم مېشتو سیمو څخه د ملي اردو ځواکونه وباسي او پر ځای یې په همغو سیمو کې "د محلي اردو" په نوم، په هره سیمه کې د هغې سیمې خلک مسلح کړي او د امنیت ساتلو په برخه کې ترې کار واخلي.

د افغان طالبانو او امریکایي چارواکو ترمنځ مخامخ خبرې، طالبانو ته د امتیازاتو د ورکړې ګنګوسې، په بل اړخ کې له کم مېشتو سیمو څخه د ملي اردو وتل او د محلي اردو په نوم، ځایي خلکو ته د خپلو سیمو د امنیت ساتلو په پلمه وسلې ورکول، هغه موضوعات دي چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

## د امریکا او طالبانو مخامخ خبرې

ډونالډ ټرمپ، له ولسمشر کېدو وړاندې په افغانستان کې د امریکا د روانې جګړې خلاف نظر درلود؛ خو له ولسمشر کېدو سره یې له اته میاشتې څنډ وروسته، د خپل هېواد د تېرو ولسمشرانو تګلاره خپله کړه او د افغان جګړې پر دوام یې ټینګار وکړ؛ خو دا چې د جګړې تګلاره په تېرو ۱۷ کلونو کې یوه ناکامه هڅه وه، له دې سره د یو کال په تېرېدو، ډونالډ ټرمپ هم دا درک کړل چې د جګړې تګلاره یې اغېزناکه نه ده او له طالبانو سره باید د خبرو لار غوره کړي.

افغان حکومت، په ځانګړې توګه د ملي یووالي حکومت له طالبانو سره د سولې په برخه کې د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه د پام وړ هلې ځلې وکړې؛ خو طالبانو له افغان حکومت سره نه، بلکې تل یې له امریکا سره نېغ په نېغه خبرې کول غوښتې. امریکا که څه هم، تر تېرې میاشتې د طالبانو دغې غوښتنې ته منفي ځواب درلود؛ خو تېره اوونۍ د امریکا وال سټریټ ژورنال په یوه راپور کې ویلي و چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیالې، الیس ویلز د یوه لوړ رتبه پلاوي په مشرۍ د قطر پلازمینې دوحه کې د طالبانو له استازو سره مخامخ خبرې کړې دي. طالبانو که څه هم په دې اړه کومه رسمي اعلامیه نه ده خپره کړې؛ خو بي بي سي سره په خبرو کې دوو جګپوړو طالب چارواکو ویلي چې له امریکایي چارواکو سره یې په دوحه کې کتلي دي.

د دې کتنې په اړه تر دې دمه څرګنده نه ده، چې د طالب استازو او امریکایي چارواکو ترمنځ پر کومو موضوعاتو خبرې شوې یا هم یو بل ته څه وعدې ورکړل شوې دي؛ خو رویټرز خبري آژانس د یوه طالب چارواکي له خولې ویلي، غونډه په دوستانه فضا کې ترسره شوه، ډېر مثبت پیغامونه یې درلودل او دواړو لوریو پرېکړه وکړه چې د خبرو له لارې د روانې کشالې د حل په موخه به راتلوونکې میاشت په قطر، ترکیه او یا هم عربستان کې بیاځلې مخامخ خبرې ولري.

په ټوله کې د سولې په اړه د طالبانو او امریکا مخامخ خبرې د افغان جګړې په پای رسولو کې خورا هیله بښوونکې دي؛ خو په دغو خبرو کې د امریکا صداقت او پر خپلو ژمنو عمل یو مهم ټکی دی.

## د سیمه‌ییزې اردو طرحه

له تېرو څو ورځو راهیسې رسنیو کې ویل کېږي، امریکا افغان حکومت ته ویلي ترڅو خپل امنیتي ځواکونه د هېواد له کم مېشته سیمو څخه را وباسي. د افغانستان دفاع وزارت دا خبره مني؛ خو وايي چې دا د امریکا طرحه نه، بلکې زموږ خپله طرحه ده او یوازې د امریکا ولسمشر تائید کړه. دفاع وزارت دغه راز وایي چې د هېواد له لرې پرتو سیمو څخه چې ګڼ مېشتې نه دي، غواړي د ملي اردو ځواکونه وباسي او پر ځای یې د "محلي اردو" په نوم نوی سیمه ییز پوځي ځواک ځای پر ځای کړي.

د دغه وزارت د چارواکو په وینا، محلي اردو به د پخوانیو سیمه ییزو پولیسو یا اربکیانو په شان نه وي. دوی وایي چې په دغه ځواک کې به زیاتره د دفاع وزارت پخواني سرتېري او افسران جذبیږي او د ملي اردو تر قوماندې لاندې به خپل فعالیتونه کوي.

په افغانستان کې د محلي اردو مسئله که څه هم تازه د امریکا او طالبانو له خبرو سره راپورته شوې، خو د دې طرحې په اړه آن تېر ۲۰۱۷م کال د سپټمبر میاشت کې د رویټرز خبري آژانس د راپور پر بنسټ، د هند په پلازمېنه نوي ډهلي کې د امریکایي او افغان چارواکو بحثونه شوي وو، ځکه هند هم ورته یو پوځي ځواک لري چې له نورو ځواکونو څخه یې یوه اندازه مسؤولیتونه را کم کړي دي او داسې انګېرل کېږي چې د ټرامپ د پوځي تګلارې یوه برخه ده.

په افغانستان کې د محلي ملېشو تجربه، هغه که په هر نوم او بڼه وي، یوه ناکامه او بدنامه تجربه ګڼل کېږي. د امریکا او افغان حکومت له لورې په هېواد کې د امنیت ټېنګښت په موخه د محلي اردو په نوم نوی سیمه ییز وسله وال ځواک رامنځته کول، د سیمه ییزو پولیسو د تجربې بیا ځلې تکرار دی. ښه داده چې د سیمه ییزو وسله والو ملېشو د رامنځته کولو پر ځای د افغانستان امنیتي ځواکونه تقویه کړي، ویې روزي او په عصري وسلو یې سمبال کړي.

## د افغان جګړې او سولې راتلوونکی

**سوله**؛ په وروستیو کلونو کې له طالبانو سره د سولې خبرې اترې تر بل هر وخت ګرمې وې، خو په دغو خبرو کې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو حضور او له امریکا سره پر مخامخ خبرو د طالبانو ټینګار، هغه څه و، چې روانه پروسه یې له بن‌بست سره مخ کړې وه.

امریکا که څه هم ډېره هڅه وکړه چې طالبان له هرې ممکنې لارې مات کړي او له افغان حکومت سره یې خبرو ته کینوي، خو دې چارې بیا برعکس طالبانو ته زمینه برابر کړه چې په سیمه کې د امریکا له رقیبانو سره اړیکي جوړې کړي او د هغه یوازیني هېواد له انحصاره تر یوې اندازې ځانونه وباسي چې د امریکا د فشار له امله به یې تل پر طالبانو بېلابېل فشارونه واردول.

د جګړې له اوږدوالي ورهاخوا په سیمه کې له روسیې، ایران او چین سره د طالبانو اړیکې جوړول، تر ډېره هغه اړخ و چې امریکا یې بالآخره له دغې ډلې سره د سولې په اړه مخامخ خبرو ته اماده کړه. خو له دې ټولو سره سره داسې انګېرل کېږي چې اوس مهال امریکا هڅه کوي څو طالبان په هرې ممکنې لارې د سولې خبرو ته حاضر کړي، غواړي د خپلو سرتېرو د ویستلو مهال وېش هم ورسره معلوم کړي؛ خو اصلي سناریو داده چې امریکا غواړي په همدې موده کې د افغانستان سیاسي او امنیتي وضعیت دومره کړکېچن او ماتېدونکی کړي، چې خپله افغانان یې د پاتې کېدو غوښتوونکي شي.

**جګړه**؛ په افغانستان کې له لرې پرتو سیمو څخه د افغان امنیتي ځواکونو را ویستل او یوازې پر ښارونو د تمرکز زیاتوالی، د افغان جګړې په تګلاره کې یو نوی بدلون دی. د دغې تګلارې له مخې به د ملي اردو تر کنټرول لاندې سیمو کې به، د امنیت ساتلو په موخه د هماغې سیمې اوسیدونکي مسلح کړل شي.

د همدې تګلارې په اړه لاندې څو ټکي د بحث وړ دي:

- د افغانستان زیاتره ښارونه په جبهیي جګړو کې ښکېل نه دي چې د اړتیا له مخې دې، ملي اردو هلته ځای پر ځای شي او شپه او ورځ دې له مخالفینو سره مخامخ جګړه وکړي؛ بلکې په ښارونو کې د استخباراتي کمزورتیا له کبله، ډېری مهال خونړي بریدونه او چاودنې کېږي. د دغو چاودنو د مخنیوي لپاره قوي استخباراتي پلان او عمل ته اړتیا ده چې ښایي تر یوې اندازې د دا ډول بریدونو مخه ونیولی شي.
- ښارونو ته د ملي اردو راوستل ښایي د جنایي پېښو او جرمونو په کمښت کې مثبت تمام شي؛ خو په بل اړخ کې دا احتمال هم ډېر دی چې وسله وال مخالفین به له دې وروسته په ښارونو خپله پاملرنه زیاته کړي او هڅه به یې دا وي چې پر ښارونو تهاجمي حملې وکړي. دغه راز وسله وال مخالفین به د هېواد په لرې پرتو سیمو کې له محلي اردو سره د جګړو پر مهال، د افغان او امریکایي ځواکونو له هوایي بمباریو سره مخ کېږي، چې د تېرو کلونو په شان به تر ډېره په دغو بمباریو کې ملکي افغانان قرباني کېږي.

- د محلي اردو په نوم نوی ځواک، پرته له ملېشه جوړونې او د تېرو تجربو له تکرار بل څه نه شو ګڼلی. د ځايي ملېشو قوي کېدل به په خلکو کې د قومي او کورنيو شخړو او مخالفتونو د رامنځته کېدو لامل شي او دا هم لرې نه ده چې په راتلونکي کې به همدا ملېشې په مافيايي کړيو بدلې شي او افغان دولت ته به، په يو بل ستر سرخوږي واوړي. پای

# ائتلاف‌های سیاسی و بنیادهای تشکیلاتی آن در افغانستان



در سال‌های اخیر میدان سیاست افغانستان شاهد رویارویی‌ها و اختلافات حکومت و شماری از احزاب سیاسی و سیاسیون کشور بوده است. در ادامۀ همین وضعیت هفتۀ گذشته (۲۶ جولای ۲۰۱۸م) برخی از احزاب و جریان‌های سیاسی کشور، با برگزاری نشستی در کابل تشکیل "ائتلاف بزرگ ملی افغانستان" را اعلام کردند.

در مراسم اعلام موجودیت این ائتلاف، عطا محمد نور رئیس اجرائیۀ جمعیت اسلامی، حکومت وحدت ملی را به بی‌برنامگی و ضعف مدیریتی محکوم کرد و گفت: "که سرکوب افراد سرشناس و رهایی جنایتکاران زیر نام روند صلح، کشور را به پرتگاه کشانیده و قانون را باپرسش مواجه ساخته است".

هرچند ریاست جمهوری در خبرنامه‌ای از ایجاد این ائتلافی سیاسی، استقبال کرد و گفت که رئیس جمهور کشور در آیندۀ نزدیک با اعضای آن در رابطه به مسایل ملی نشستی خواهد داشت؛ اما تأکید کرده که برای توسعۀ سیاسی، به حوصله، وسعت نظر و رقابت مثبت نیاز است.

اپوزسیون و چگونگی ائتلاف‌های ضد حکومتی، عوامل تشکیلاتی ائتلاف‌های سیاسی ضد حکومت در افغانستان و تشکیل اعلام "ائتلاف بزرگ ملی افغانستان"، موضوعاتی اند که در این تحلیل روی بحث گرفته می‌شوند.

## اپوزسیون و ائتلاف‌های ضد حکومتی

اپوزسیون در لغت به معنای ضدیت، مخالفت و مقابله است و در مفهوم وسیع به معنای تلاش احزاب و جریان‌های سیاسی برای رسیدن به اهدافی در جهت مخالف اهداف دارندگان قدرت سیاسی یک دولت است.

اپوزسیون و تشکیل ائتلاف‌های سیاسی در جامعه‌های دموکراتیک و آزاد یک اصل حکومتداری است. این اپوزسیون‌ها و ائتلاف‌ها کارکرد و پالیسی‌های حکومت را به هدف بهبود آن بگونهٔ جدی نظارت و نقد می‌کنند. در این مورد علاوه بر اصل دموکراتیک غرب، از نظر اسلام نیز نظارت از کارکرد نظام حاکم و نقد آن، جهاد افضل شمرده می‌شود و یک مسؤولیت اخلاقی هر فرد جامعه است. بر همین اساس بدون حکومت‌های دکتاتور و استبدادی دیگر در همه جامعه‌ها برای نقد کارکرد حکومت‌ها به گروه‌های اپوزسیونی جای داده شده است.

کشورهایی که سیستم حکومتی شان پارلمانی است، نظر به قانون اساسی، موجودیت اپوزسیون در آن کشورها رسمی می‌باشد. در همچون کشورها گروهی در پارلمان شکل می‌گیرد که از حکومت حمایت نمی‌کند؛ اما متعهد به قانون اساسی آن کشور می‌باشد و محور وفاق ملی آن‌ها قانون اساسی می‌باشد. در این کشورها اپوزسیون می‌تواند در گفتگوهای مجلس قانون‌گذاری، مطابق شرایطی که قانون اساسی معیّن کرده، بر کار حکومت نظارت مستقیم داشته باشد و افکار عمومی را درجریان وقایع و حوادث کشور و جهان قرار دهد.

## ائتلاف‌های سیاسی در افغانستان

در کشورهای جهان سوم و عقب مانده‌ای مانند افغانستان اپوزسیون غالباً به مخالفانی اطلاق می‌شود که در صدد بر اندازی نظام حکومتی آن جامعه یا به زیر کشیدن قدرتمندان نظام از اریکهٔ قدرت هستند و گاهی اوقات از طرف قدرت‌های مسلط جهانی به صورت پنهان یا آشکار مورد حمایت سیاسی، تبلیغاتی و مالی قرار می‌گیرند.

در یک و نیم دههٔ گذشته، افغانستان شاهد چندین ائتلاف و اپوزسیون سیاسی بوده که تا اندازهٔ بیشتر با نزدیک شدن انتخابات پارلمانی یا هم ریاست جمهوری اعلام موجودیت می‌کردند. این ائتلاف‌ها با حکومت مخالفت سیاسی و کارکرد حکومت را نقد می‌کردند.

با آنکه پس از سال ۲۰۰۱م و ایجاد نظام جدید در افغانستان، امیدها بر این بود که رهبران و نخبگان سیاسی افغانستان با صدها خطا و اشتباه انجام دادهٔ خویش، در حال رسیدن به بلوغ و رشد سیاسی هستند و می‌توانند منافع خود را در کنار دیگران و در قالب تشکیل ائتلاف‌های سیاسی ببینند؛ اما این ائتلاف‌ها هر بار بعد از چند مدتی و یا هم بعد از برگزاری هر بار انتخابات، دوباره از داخل خود از هم پاشیده و شماری از اعضای آن با بدست آوردن کرسی‌ها در حکومت، ائتلاف را ترک کردند.

در زمان حکومت وحدت ملی نیز سیاسیون کشور همچون گام‌های را برداشتند. برای نمونه می‌توان ائتلاف "شورای حراست و ثبات افغانستان"، "ائتلاف نجات افغانستان"، ائتلاف تازه‌ای تحت عنوان "ائتلاف بزرگ ملی افغانستان" و برخی ائتلاف‌های کوچک دیگر را یاد کرد.

در کل ائتلاف‌های سیاسی که در یک ونیم دهۀ گذشته بر ضد حکومت در افغانستان اعلام موجودیت کرده اند. همواره بدون این که نظارتی جدی و مداوم از کارکرد حکومت داشته باشند، پالیسی‌های حکومت را نقد کنند و طرح‌های بدیل به حکومت و مردم پیشنهاد کنند، بدون در نظرداشت مصلحت عمومی در کشور و داشتن طرح عملی و بدیل، در تغییر کلی نظام تلاش ورزیده اند.

## "ائتلاف بزرگ ملی افغانستان"

عبدالرشید دوستم معاون اول رئیس جمهور، صلاح الدین ربانی وزیر امور خارجه، عطا محمد نور والی پیشین بلخ، محمد محقق معاون دوم ریاست اجرائیه، برخی از چهره‌های مطرح سیاسی کشور و شماری از وکلای پارلمان، اعضای برجستۀ "ائتلاف بزرگ ملی افغانستان" اند.

اعضای این ائتلاف در مراسم اعلام موجودیت خویش، کارکرد حکومت وحدت ملی را زیر انتقادهای تندی قرار دادند. عطا محمد نور یکی از اعضای این ائتلاف گفت "که وضعیت حاکم در کشور نگران کننده است، افتراق قومی، تلاش برای حذف دیگران و سلطه‌جویی، افغانستان را به پرتگاه سقوط نزدیک کرده است".

از سوی هم محمد محقق عضو دیگر این ائتلاف در سخنان خود از حکومت خواست که طرح انتخاباتی احزاب سیاسی – که در آن پیشنهاد تغییر سیستم رأی واحد غیر قابل انتقال به رأی واحد قابل انتقال شامل است ـ را قبول کند و هشدار داد که "در غیر آن منتظر حرکت‌های مدنی احزاب باشد".

در کل با در نظر داشت چگونگی تشکیل این ائتلاف و داد و گرفت های افراد منسوب به احزاب مختلف و ایجاد ائتلاف های مؤقت در گذشته، چنان به نظر می رسد که همانند ائتلاف های قبلی، "ائتلاف بزرگ ملی افغانستان" موفق به نگهداری وحدت و انسجام خویش نخواهد شد و عمر کوتاهی خواهد داشت.

این که چرا احتمال از هم پاشیدن "ائتلاف بزرگ ملی افغانستان" وجود دارد، در این مورد چهار نکتهٔ ذیل قابل ذکر است:

**نخست:** احزاب و جریان‌های سیاسی یی که در حال حاضر در میدان سیاست افغانستان فعالیت دارند، در طول هفده سال گذشته از یک سو در تحکیم انسجام داخلی خویش و از سوی دیگر بگونهٔ یک حزب سیاسی و برابر با اصول سیاست حزبی خویش در تعاملات و قضایای سیاسی کشور موفقیت‌های چشمگیری نداشتند. به گونهٔ مثال در انتخابات ریاست جمهوری ۱۳۹۳هـ ش محمد محقق از حزب وحدت اسلامی در کنار داکتر عبدالله عبدالله از حزب جمعیت اسلامی ایستاد و اسمعیل خان از حزب جمعیت اسلامی برخلاف هم‌حزبی خود از عبد رب الرسول سیاف از حزب دعوت اسلامی حمایت کرد. بناً زمانیکه یک حزب توان منسجم ساختن اعضای خویش را نداشته باشد، چگونه ممکن خواهد بود که در یک ائتلاف چند حزبی، منسجم و متحد بماند؟

**دوم:** حضور مقام‌های برحال دولتی در این ائتلاف. معمولاً اشخاص یا سیاستمدارانی در اپوزسیون و یا ائتلاف ضد حکومت گرد هم می‌آیند که از مقامات برحال حکومت نباشند و اگر باشند، بر اساس اصول تشکیل اپوزسیون، نخست باید از مقام خویش استعفاء دهند و بعداً مخالف حکومت در کدام ائتلاف سیاسی قرار گیرند؛ ولی در افغانستان اعضای ائتلاف‌های ضد حکومت همواره با حضور مقام‌های حکومت اعلام موجودیت می‌کنند. اما اگر رابطهٔ یکی از آنان با حکومت، بنابر بعضی داد و گرفت‌ها دوباره بهبود یابد، همان روز بدون در نظرداشت مخالفت‌های گذشتهٔ خود، ائتلاف را ترک و دوباره به دامن حکومت خواهد رفت.

**سوم:** مانند ائتلاف‌های گذشته، در این ائتلاف هم افرادی وجود دارند که با از دست دادن کرسی خویش در حکومت، مخالفت با حکومت را آغاز نموده اند و با چهرهٔ جدید قدرت طلبی روی صحنه ظاهر شدند. همچون اشخاص تا زمانی با ائتلاف‌ها متحد می‌باشند که دوباره کدام کرسی و یا مقامی در حکومت به دست آورند و با به دست آورن آن بدون کدام درنگی ائتلاف را ترک می کنند.

**چهارم:** در ائتلاف‌های سیاسی اشخاصی از گروهای مافیایی که کاروبار و آینده خویش را در خطر می‌بینند، نیز تلاش دارند که خود را جابجا کنند. این ها با استفاده از این راه، می‌خواهند که با وارد کردن فشار بر حکومت، فشارهای حکومت برخود را کاهش دهند. همچون اشخاص نیز تنها تا زمانی با ائتلاف‌ها سیاسی یکجا می‌باشند که به خواسته‌های خویش دست یابند و بعد از آن ائتلاف را ترک می‌کنند.

با این همه با در نظر داشت چگونگی و وضعیت ائتلاف‌های سیاسی در سال‌های قبل و اینکه هر بار با نزدیک شدن انتخابات ریاست جمهوری همچو ائتلاف‌ها اعلام می‌گردید، به نظر می رسد که ایجاد ائتلاف‌های سیاسی در افغانستان در اغلب موارد، بنابر عقده‌های شخصی سیاستمداران و یا هم بدست آوردن قدرت و مقامی در میدان سیاست می‌باشد، نه برای تأمین منافع ملی، تحکیم قانون و اصلاح نظام در کشور.

پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com